د افغانستان د څېړنې او
ارزونې اداره

EUNPACK
A CONFLICT SENSITIVE UNPACKING OF THE EU COMPREHENSIVE APPROACH TO CONFLICT AND CRISES MECHANISM



چونا اچاويز او قيوم سروش



وږى ۱۳۹۸


# په افغانستان کې د بحران په وړاندې د اروپايي اتحاديې د غبرګون ارزونه

## د موضوعاتو ليکلړ


ميتودولوژي: ........ ۲
موندنې: ........ ۲
پايلې: ........ ۲
د پاليسي سپارښتنې: ........ ۲
اخذليکونه: ........ ۷


## سريزه: په افغانستان کې د اروپايي اتحاديې د پوليس ماموريت

اروپايي اتحاديه د خپلو غړو دولتونو سره د افغانستان لپاره کليدي مرسته کونکې دي چې له کال ۲۰۰۲ څخه تر کال ۲۰۱۰ پورې يې له افغانستان سره نږدې ۸ مليارد يورو مرسته کړې. له نړيوالو همکارانو سره په ګډه، اروپايي اتحاديې د ټينګښت او بيا رغونې په هڅو کې ډېره مهمه ونډه درلوده.[1] په کال ۲۰۰۱ کې د طالبانو د واکمنۍ له نسکورېدو وروسته، نړيوالې ټولنې له بيلابيلو افغاني، سياسي نخبه ګانو سره يو ځای په بن کې د ملګرو ملتونو په کنفرانس کې راغونډ شول او په پايله کې يې د بن تړون تصويب کړه. دې تړون په افغانستان کې موقته اداره وټاکله او دغه راز نړيوال پوځي ځواکونه يې وګمارل چې د کابل او نورو ولايتونو د امنيت په برخه کې له نوې اداري سره مرسته وکړي. اروپايي اتحاديې او د هغې غړو دولتونو تړون وکړه چې له افغانستان سره د قانون د واکمنۍ د يوه پياوړي چوکاټ په تاسيسولو کې مرسته وکړي.[2]

د ۲۰۰۲ کال د اپريل په مياشت کې په ژنيوکې د ۸ سترو صنعتي هيوادونو په کنفرانس کې د مرسته کونکې ټولنې د اصلاحاتو يو پروګرام په دې بنسټ جوړ کړ چې " يو هيواد به په يوه برخه کې د چارو د سمبالښت لارښونه کوي". " د يوه هيواد تر لارښونې لاندې کاري چوکاټ" کې امنيتي سکټور په ۵ برخو وېشل شوی و او ۵ هيوادونه وګمارل شول چې د يوې برخې اصلاحات تر څارنې لاندې ونيسي او له هغو سره مرسته وکړي. د جرمني مسوؤليت دا و چې د افغان پوليس ځواکونو ته روزنه ورکړي؛ جاپان د دې مسول و چې د غير نظامي کولو، بې وسلې کولو او د بيا ادغام کولو (DDR) بهير تعقيب کړي؛ ايټاليا مسوؤليت درلود چې په قضايي سيستم او د جنايي تعقيب په بهير کې اصلاحات راولي؛ برطانيه مسوؤله وه چې د مخدره توکو په ضد مبارزه پياوړې کړي او د مخدره توکو ضد افغاني ځواکونه وروزي؛ د امريکا متحده ايالاتو ژمنه وکړه چې افغان ملي اردو به جوړوي.[3] د " يوه دولت د لارښونې تګلاره" په ۲۰۰۵ کال کې کمزورې شو او نړيوال امنيتي مرستندويه ځواک (ايساف) په نړيواله ټولنه کې د افغانستان د امنيتي سکټور د پياوړتيا او پرمختګ لپاره اصلي مخکښ سازمان وګرځېد. اروپايي اتحاديې او د هغې غړي هيوادونو ژمنه وکړه

## د ليکوالانو په اړه:

چونا آرايچاويز په افغانستان کې په بيلابيلو دندو کې تر ۷ کلونو څخه زيات کار کړی، لکه مشر څېړونکی، د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د رئيس مرستيال او موقتي رئيس. دغه راز چونا له ډېرو نړيوالو سازمانونو سره د سلاکار په حيث کار کړی او په کمبوديا او پيسيفيک ايرليند کې يې هم کارونه کړي. په کانبيرا کې د استراليا د ملي پوهنتون څخه يې په ټولنه پېژندنه کې تر PhD (دوکتورا ) درجې پورې زده کړې کړې دي.

قيوم سروش له کابل پوهنتون څخه د فلسفې او ټولنپېژندنې په څانګه کې د ليسانس کچې پورې تعليم کړی او د OSCE له اکاډيمي څخه يې په منځنۍ آسيا کې د امنيت او سياست په څانګه کې د ماستري علمي درجه تر لاسه کړې ده. ده له يو شمېر څېړنيزو سازمانونو سره کار کړی او اوس د افغانستان د څېړنې او ارزونې په اداره کې د څېړنې د افسر په حيث کار کوي.

۱ د اروپايي اتحاديې د سکرتريت شورا، د معلوماتو لنډيز په افغانستان کې د اروپايي اتحاديې فعاليت ، جنوري ۲۰۱۰، لينک

۲ ټيم ينګز، افغانستان د بن د پروسې اوج، څېړه نيزه پاڼه،

۳ ګوفي هينز، او مارک سيدرا، افغانستان: د خطرونو تر تحديد لاندې انتقال ،

چې د افغانستان له حکومت سره په دې هیواد کې د قانون د واکمنې یو پیاوړی چوکاټ تاسیس کړي. [۴]

په ۲۰۰۷ کال کې یوپول تاسیس شو چې د افغانستان له حکومت سره د پولیس په چوپړ کې اصلاحات راولي. د یوپول موخه دا وه چې د افغاني مالکیت لاندې د ملکي پولیس د یوه فعاله او اغېزناکه نظم په تاسیس کې مرسته وکړي چې وکولای شي د پراخ جنایي عدلي سیستم سره د مناسبي متقابلې همکارې ضمانت وکړي. د یوپول موخه دا وه چې د جرمني د پولیس د پروژې د دفتر د هڅو پر بنسټ خپل کارونه پیل کړي څو د پولیس په اصلاحاتو کې د بیلابیلو همکارانو هڅې او میتودونه سره همغږې کړي. [۵]

د یوپول ماموریت درې پړاوې درلودې؛ لومړی پړاو له کال ۲۰۰۷-۲۰۰۹ پورې وه، دویم پړاو یې له کال ۲۰۰۹-۲۰۱۳ دربمه او وروستی پړاو له کال ۲۰۱۳ څخه پیل او په ۲۰۱۷ کال کې ختمه شوه. د یوپول ماموریت د افغانستان د کورنیو چارو وزارت (MOI) مشرتابه، افغان پولیس، د عدلیې وزارت (MOJ) او د لوی څارنوالۍ دفتر (AGO) سره کار کاوه[۶]. له کال ۲۰۰۷ څخه تر کال ۲۰۱۷ پورې د یوپول بودجه په افغانستان کې ۴۵۷ میلیونه یورو اټکل شوې ده. یوپول په افغانستان کې خپل ماموریت د دریو عملیاتي کړښو په اوږدو کې پلی کوي: د عملیاتي لومړۍ کرښه ۱) د کورنیو چارو د وزارت د بنسټونو اصلاحات؛ عملیاتي دویمه کرښه ۲) د ملي پولیس مسلکي کول؛ او دریمه عملیاتي کرښه: ۳) د ملي پولیس نښلول له عمومي عدلي سیستم سره.

## میتودولوژي:

د پالیسي په برخه کې دغه لنډه توضیح د شمیرو په مرسته د یوې سیستماتیکې عملي څېړنې پایله ده چې د ۳۰۰ مرکه کوونکو څخه د نظریاتو د احتمالي نمونې پر بنسټ د سروې یو میتود دی چې له دریو کتګوریو څخه انتخاب شوي وو ( د هرې کتګوري څخه ۱۰۰ کسه په اتفاقي ډول انتخاب شوي). په دې سروې کې په افغانستان کې د یوپول د هلو ځلو په اړه پوښتنه شوې. په دې دریو کتګوریو کې د هغو ټولنو خلک شامل وو چېرې چې د یوپول له خوا روزل شوي پولیس ګمارل شوي وو، ګټه اخیستونکي ( هغه پولیس افسران چې د یوپول له روزنې څخه برخمن شوي وو ) او د وزارتونو برخه وال چې د یوپول په تطبیق کې یې د همکارانو په حیث برخه اخیستې وه. د ټولنې د ګډون کوونکو څخه ۱۰۰ کسه اوسېدونکي په اتفاقي ډول د کابل د پولیس د دریمې حوزې له شاوخوا خلکو څخه وو چېرې چې د یوپول له خوا روزل شوي پولیس ګمارلي وو. بیا د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې ټیم په ۸ سیمو کې له ۱۲ او یا زیاتو په اتفاقي ډول انتخاب شویو کسانو سره په هر زون کې سروې وکړه او هڅه یې وکړه چې په ځواب ورکوونکو کې د نارینه او ښځینه و شمیر برابر وي. د ګټه اخیستونکی کتګوري ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې له اداری سره مرکه ورکوونکي افغاني پولیس افسران او د عدلیې د وزارت او د لوی څارنوالي یو لړ شمیر کارکوونکی وو چې د یوپول له خوا روزل شوي وو. د عدلیې د وزارت او د لوی څارنوالي کارکونکی ځکه په لړ شمیر کې وو چې د یوپول د توجه مرکز افغان ملي پولیس و. یوپول د عدلیې په وزارت او لوی په څارنوالۍ کې یو څو کسانو ته روزنه ورکړه، له دې امله یوازې ۱۳ کسان د عدلیې له وازرت او ۹ کسان د لوی څارنوالۍ له دفتر څخه د مرکه ورکوونکو په څېر په دې سروې کې شامل و. پاتې پوښتنې (۷۸) د افغان ملي پولیس له هغو څانګو څخه وشوې له کومو سره چې یوپول کار کړی و. په دې ریاستونو کې د ملي پولیس د ملکي نظم ریاست، د افغان سرحدي پولیس ریاست، د اور ضد پولیس او د ځانګړې پولیسي ځواک ریاست شامل و.

په برخه والو کې د ریاستونو مشران، د کورنیو چارو په وزارت کې لوړ پوړي چارواکي او د روزنې مرکزونه شامل وو چې د یوپول د پروژو په تطبیق کې یې همکاري ورسره کړې ده. د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د شمیرې او د سروې د پروسیس له سیستم څخه (CSPRO) کار اخیستی چې د ټولنیزو علومو لپاره د شمیری کڅوړی (SPPS) د ډیټا د پروسیس لپاره یې شمیرې ثبت کړي. دغه شمیرې د سلنې او مکرر والي له جهته پروسیس شوي دي.

## موندنې:

د مرکه ورکوونکو له جملې څخه (۱ الف، ا ب او ا ج شمیری ) چې تر څېړنې لاندې وو یانې د ۳۰۰ ایزه کسانو له ډلې څخه په لسو کسانو کې یې ۷ تنه نارینه وو. په نارینه مرکه ورکوونکو کې لویه سلنه هغه برخه وال وو چې له تطبیق کوونکو وزارتونو څخه راتلل (۴. ۸۱) وریسې پولیس افسران وو چې د یوپول له ګټه اخیستونکو څخه وو ( ۴. ۷۲٪). د عمر په لحاظ ۲۳، ۰ سلنه له ۱۸ څخه تر ۲۵ کلونو پورې و؛ ۴۱، ۰ سلنه یې له ۲۲ څخه تر ۳۹ کلونو پورې وو، ۳۴، ۰ سلنه له ۴۰ څخه تر ۲۰ کلونو او ۲،۰ سلنه له ۲۰ کلنۍ څخه پورته و.


شمیرې ۱ الف، ۱ ب ، ۱ ج ، ۱ ټاکل شوي کسان ( جنس، عمر او د مرکه کوونکو په ښوونځي کې د کلونو شمیر ، فیصدي).

---


۴ د پلټونکو اروپایي محکمه، د اروپایي اتحادیې د پولیس ماموریت په افغانستان کې ، مختلطې پآیلې ، خاص راپور، لکسم برګ، ۲۰۱۵

۵ د اروپایي اتحادیې د یوپول ماموریت په افغانستان کې ، د امنیت او دفاع مشترکه پالیسي، اکتوبر ۲۰۱۱،


۶ روبرت کاګن، جنت او قوت، الفرید ای، نوف، ۲۰۰۳ مخ ۲۳،




شکل۱ الف: جندر




شکل۱ ب: عمر





شکل۱ ج: په ښوونځي کې د کلونو شمېر


له تطبیق کوونکو ادارو څخه برخه وال او هغه پولیس افسران چې له یوپول څخه ګټه اخیستونکی و او له هغو سره شامل وو په عامه توګه په ټولنه کې د هغو مرکه ورکوونکو مشرانو څخه وو چې په ټولنه کې یې د یوپول له خوا روزل شوي پولیسان درلودل. ډېری مرکه ورکوونکي روزل شوي دي په خاصه توګه هغه کسان چې د پولیس په څواک پورې تړاو درلود او د یوپول له خوا شامل شوي وو او هغه کسان چې له تطبیق کوونکو ادارو څخه راتلل. په هر حال له ټولنې څخه راتلونکو کسانو نژدې یو پر څلورمه برخه یې بې تعلیمه و او ورځنې لیکلې مواد یې نه شو لوستلای.

په مجموعي توګه ، له ۱۰ کسانو څخه ۷ تنو یو نړیوال فعال پېژانده چې په افغانستان کې د بحران په وړاندې په غبرګون کې شامل و. دويم شکل ښيي چې له تطبیق کوونکو وزارتونو څخه برخه والو د پوهاوي د کچې له نظره په ټولو کې لوړې نمرې درلودې. له دوی وروسته د پولیس افسران او هغه کسان راتلل چې په ټولنه کې وو.

دریم شکل درې ډېر مشهور نړیوال فعالین ښيي چې په افغانستان کې د بحران سره په غبرګون کې شامل وو، یانې اروپايي اتحاديه (۹۹،۱ سلنه ، ملګري ملتونه، ۷۰،۲ سلنه) او د امریکا متحده ایالاتونه (۵۹،۳ سلنه ).




شکل۲: په هیواد کې د بحران په وړاندې په غبرګون کې د ښکېلو نړیوالو برخه والو د پوهې کچه ( سلنه)




شکل ۳: پېژندل شوي نړیوال برخه وال څوک چې په هیواد کې د بحرانونو په وړاندې په غبرګون کې ښکېل دي

څلورم شکل د اروپايي اتحاديې له خوا د بحران په وړاندې د غبرګون په اړه پوهاوی ښيي او څرګندوي چې په مجموعي توګه " د ظرفیت جوړونه "( ۸۰،۴ سلنه ) او " د پرمختګ مرستې" (۷۰،۲ سلنه) تر ټولو لوړه درجه لري او " د قانون واکمنې" (۴۸،۹ سلنه) تر ټولو ټیټه درجه لري.

"په هیواد کې د بحران په وړاندې د مسلکي/ په خپلو خوښې هلی ځلی " په اړه پینځم شکل ښيي چې ۲۷،۲ سلنه د ټولو مرکه ورکوونکو په هیواد کې

د بحران په وړاندې په غبرګون کې شامل وو. د هغو کسانو لوړه فيصدي چې راپور يې ورکړی چې دوی د بحران په وړاندې په مسلکي/ رضاکارانه توګه شامل وو، هغه پوليس افسران وو چې د يوپول له پروژو څخه ګټه اخيستې (۸۲،۳ سلنه ) او له تطبيق کوونکو وزارتونو څخه برخه وال وو ( ۷۲،۵ سلنه ). دغه پايلې د جوړ جاړي وړ دي ځکه چې د مرکه ورکوونکو په کاري مسوؤليتونو پورې يې اړ درلود.


د هغو ټولنو څخه چې د يوپول روزل شوي پوليسان يې درلودل، د مرکه ورکوونکو له نيمايي څخه لږ کسانو ويلي چې دوی د بحران سره په غبرګون کې په مسلکي / رضاکارانه توګه برخه اخلي. د ټولنې په کچه د ګډون اندازه ټيټه ده.

داسې يو باور شته چې وايي د اروپايي اتحاديې مرستې د دې اتحاديې چاراواکو ته (۷۸،۱ سلنه)، دولتي کارکوونکو (۷۷،۲ سلنه) او نظامي چاراواکو ته ( ۷۷،۲ سلنه) ګټه رسولې ده. ( ۲شکل ). له يوې خوا، يوازې يو څو تنو مرکه ورکوونکو راپور ورکړی چې مرستې اړو خلکو لکه لږکي، کډوال/ مهاجرين او يتيمانو ته رسيدلې. په دې برسېره، د دې خلکو يوه لويه برخه فکر کوي چې غيردولتي وسله وال کسان هم په افغانستان کې د اروپايي اتحاديې له مرستو څخه برخمن کيږي ( ۲ شکل ).


د هغو کسانو په منځ کې چې د اروپايي اتحاديې له خوا د بحرانونو په وړاندې د غبرګون له پروګرام څخه خبر دي ډېرى مرکه ورکوونکو د اروپايي اتحاديې د مرستو د اغېزمنتوب په اړه " بې طرفي" وښودله. په هر حال، د تحليل لپاره بله وسيله دا ده چې د هغو خلکو سلنه چې رضايت يې ښودلی د هغو کسانو له سلنې سره پرتله شي څوک چې راضي نه بريښي. په پايله کې يې د دواړو خواوو سلنه مساوي کيږي.

هغو کسانو چې د بحران په وړاندې د اروپايي اتحاديې له غبرګون څخه خبر و، ويلي دي چې دا مرستې پوره نه دي او نور کارونه هم بايد وشي. په عموم ډول، نږدې ۲۳ سلنه خلک په دې باور وو چې د اروپايي اتحاديې لاس وهنه په جګړو کې حساسيت راپاروي او ۳۵ سلنې بيا ويلي چې د دې اتحاديې مرستې په جګړو کې د حساسيت سبب نه ګرزي. ( ۷ شکل).

په عمومي توګه، مرکه ورکوونکي د اروپايي اتحاديې د غبرګون په رابطه او په خاص توګه د يوپول د شتون او د هغه په اړه د پوهې په باره وپوښتل شول چې ۷۷ سلنه ورڅخه خبر وو. په دوی کې ډېر شمېر يې هغه پوليس افسران وو چې له يوپول سره بوخت وو يا له هغو برخمن شوي (۹۵،۹ سلنه). له دوی وروسته بيا د تطبيق کوونکو وزارتونو کارکونکي وو ( ۸۵،۰ سلنه) او تر ټولو وروسته هغه خلک وو چې په ټولنو کې يې د يوپول له خوا روزل شوي پوليس ګمارل شوي وو. شمېر ځرګندوي چې د دې ماموريت د پېژندلو لپاره بايد نور هم ډېر څه وشي. څرنګه چې د يوپول له خوا روزل او د دوی له خوا برخمن شوي د پوليس افسرانو د پوهې کچه لوړه وه، دا پوښتنه په خپل ځای پاتې ده چې ولې هغه ۴،۱ سلنه پوليس افسرانو چې په مستقيم توګه د يوپول له راپورونو څخه برخمن کيږي په دې اړه معلومات نه درلودل؟ دغه راز همدا پوښتنه د هغو ټولنو په هکله هم بې ځوابه پاتې ده چې د يوپول له خوا روزل شوي پوليس هلته ګمارل شوي دي ( ۸ شکل).




شکل۴: د اروپايي اتحاديې د بحران په وړاندې د غبرګون د ډول په اړه د ځواب ورکوونکو پوهه





شکل۵: د ځواب ورکوونکو د کتګوري پر بنسټ په هيواد کې د بحران د وړاندې په غبرګون کې د مسلکي/ خپلې خوښې ګډون ( سلنه)


شمير ښيي چې د ټولو مرکه ورکوونکي يوازې ۲۷،۸ سلنه له پروګرام څخه په ښه ډول خبر وو، ۳۵،۵ سلنه خبر درلود په داسې حال کې چې ۳۷،۷ سلنه راپور ورکړی چې د پروګرام په اړه په ډېر لږ څه پوهيږي. شمير وړاندې ځرګندوي چې د هغو ټولنو د پوهې کچه د پروګرام په اړه نوره هم ټيټه ده چېرې چې د يوپول له خوا روزل شوي پوليس ګمارل شوي دي. په دې برسېره، شمير ښيي چې د يوپول له خوا بوخت او برخمن شوي پوليس افسرانو څخه تر نيمايي لږ د دې ماموريت په اړه معلومات لري. مرکه ورکوونکي د ماموريت د راتلونکې په اړه څه فکر کوي؟ شمير ښيي چې د ۱۲۹ مرکه ورکوونکو څخه ۷۸،۲ سلنه چې تر يوې اندازې د ماموريت په اړه پوهېدل، خبر و چې " د افغان ملي پوليس په روزنه کې د جندر او د بشري حقونو خواوې پياوړې کيږي." په دويمه درجه کې د ماموريت يو بل معروف پروګرام " د عدالت د برابري په پروګرام کې د پوليس همکاري " ( ۷۵،۷ سلنه) او وروسته " د پوليس قومانده، څارنه او اطلاعات پروګرام ( ۵۳،۸ سلنه) هغو مرکه ورکوونکو ته معلوم و چې د يوپول په اړه يې يو څه معلومات درلودل. شمير وړاندې ځرګندوي چې " د پوليس د استخباراتو" په پروګرام باندې ډېر کسان خبر دي( ۳۰،۲ سلنه)

د هغو افسرانو په منځ کې چې په يوپول کې شامل دي/ يا برخمن دي د "استخباراتي پوليس" په اړه معلومات ډېر کم دي (۲۷،۱ سلنه ) په داسې حال کې چې " پوليس- قضا همکاري" په اړه معلومات زيات دي (۸۷،۱ سلنه ) ورپسې " د افغاني ملي پوليس په ليکو کې د بشري حقونو او جندر د اړخ پياوړی کول" (۸۰،۰) راځي.

" د فساد ضد د ستراتيژي تطبيق" هغه برخه ده چې په هکله يې د هغو ټولنو له خوا چې د يوپول روزل شوي پوليس پکې شته او د تطبيق کوونکو وزارتونو د برخه والو له خوا په پرله پسې مداوم ډول لږ معلومات څرګند شوي دي. شميرې ښيي چې د يوپول له خوا د روزل شويو پوليس په ټولنو کې يوازې ۲۹،۰ سلنه د مرکه ورکوونکو او ۲۹،۴ سلنه د تطبيق کوونکو وزارتونو برخه والو راپور ورکړی چې دوی پوهيږي د فساد ضد ستراتيژي تطبيق کول د يوپول د ستراتيژي يوه برخه ده.




**شکل ۶:** د بحران څخه د متاثره شويو خلکو لپاره مرستي لکه څنګه چې د کتګوري پر بنسټ ځواب ورکوونکو يې راپور ورکړی (سلنه)




**شکل ۷:** د ځواب ورکوونکو له خوا د اروپايي اتحاديې د لاس وهنې توضيحات (سلنه)

ټولنې چې د يوپول روزل شوي پوليس لري او د تطبيق کوونکو وزارتونو برخه وال " د افغان ملي پوليسو په ليکو کې د جندر او بشري حقونو د اړخونو پياوړی کولو " په اړه تر ټولو زيات معلومات لري . شميری ښيي چې ۷۷،۴ سلنه د هغو ټولنو ځواب ورکوونکي چې د يوپول روزل شوي پوليس لري، او ۷۷،۹ سلنه د تطبيق کوونکو وزارتونو برخه وال د دې ځانګړي پروګرام په هکله معلومات لري چې د يوپول له خوا تعقيب کيږي.


په عامه توګه، د يوپول د ماموريت د اصلي موخوپه اړه معلومات تر يوه حده د قناعت وړ دي. په شميريو کې په ورته توګه څرګنديږي چې ځواب ورکونکي تر ډېره حده نا باوره او يا زړه نا زړه وو. د ټولو ځواب ورکوونکو کتګوريو څخه د هغې سلنه ډېره لوړه وه چې ويل يې " نه پوهيږي". دغه ځواب د يوپول د ټولو شيږګونو هلو ځلو په اړه ورکړل شوی دی.

۱۰ شکل ښيي هغه ځواب ورکوونکي چې د يوپول په اړه يې يو څه معلومات درلودل باوري وو چې دغه مؤسسه د دوی په سرنوښت کې ډېر مهم نقش لري. په خاص توګه ۸۰،۲ سلنه د ۱۲۵ ځواب ورکوونکو له ډلې څخه راپور ورکړی چې د ماموريت په هکله معلومات لري او راپور يې ورکړی چې د دوی حالت د يوپول له هلو ځلو وروسته ښه شوی دی او يوازې ۵،۵ سلنې ويلې چې حالت يې خراب شوی او ۴،۸ سلنې څرګنده کړه چې دوی نه پوهيږي. شمير وړاندې ښيي چې ۹،۱ سلنه د ۱۲۵ ځواب ورکوونکو له ډلې څخه چې د يوپول په اړه يې يو څه معلومات درلودل په دې باور و چې يوپول د دوی په سرنوشت کې ډېر کم بدلون راوستی ( ياني حالت لکه د پخوا په شان پاتې شوی ).

## پایلې:

- د اروپايي اتحاديې او د دې اتحاديې مشخص پروګرام ( يوپول ) په اړه د ټولنې په کچه د معلوماتو خلا موجوده ده. له دې امله، له ټولنې څخه د مرکه کوونکو ډیری نه شو کولای د اروپايي اتحاديې د مرستو په اړه خپل رضايت وارزوي.

- د برخه والو له ډلې څخه چې مرکه ورسره شوې ده، عمومي اند دا و چې د اروپايي اتحاديې چارواکي، دولتي چارواکي او نظاميان د اروپايي اتحاديې له غبرګون څخه چې د بحران په وړاندې يې درلودلای زیاته ګټه اخیستې. دغه راز، غيردولتي وسله وال فعالين هم په هغو کسانو کې شمېرل شوي چې له دغو مرستو څخه برخمن کيږي. هغه خلک چې اړ دي ( لکه کډوال، مهاجرين، او کورنی بې ځايه شوي کسان، معيوبين، محصلين او يتيمان) د بحران په وړاندې د اروپايي اتحاديې له غبرګون څخه نه دي برخمن شوي.




شکل۱۰: په افغانستان کې د يوپول له ماموريت څخه
وروسته د وضعيت په اړه د ځواب ورکوونکو درک

- پوليس افسران چې د يوپول له پروګرامونو برخمن دي او په هغو کې شامل دي، د استخباراتي پوليسانو او د فساد ضد ستراتيژۍ له تطبيق سره تړاو نه لري او په هغه اړه په ډېر څه نه پوهيږي.

- د مرکه ورکوونکو په منځ کې د بې اطمينانۍ او ناپوهۍ درجه لوړه وه کله چې په ټولو کتګوريو کې د ماموريت د موخو په اړه د دوی د رضايت پوښتنه وشوه. په ټولو کتګوريو کې د "نه پوهيږم ځواب د ماموريت د ټولو موخو په اړه ډېر زيات تکرار شوی".

## د پاليسي سپارښتنې:

۱. **د عامه پوهاوي په پروګرامونو کې پانګونه:** سروې ښيي چې ځايي ټولنې د اروپايي اتحاديې او د هغې د پروګرامونو په اړه محدوده پوهه لري. دوی حتی ګمان کوي چې د اروپايي اتحاديې ځينې مرستې د بلواګرو لاس ته رسيږي. په دې برسېره، ځينې پوليس افسران چې د يوپول له خوا روزل شوي او يا د دوی همکاران دي نه پوهيږي چې اروپايي اتحاديې ماموريت او هلی ځلی په افغانستان کې څه شی دی. که پوهه زياته شي، د عادي خلکو ګډون او هلی ځلی به زياتی شي. د عامه رسنيو ځواک او د ټولنيزو شبکو هلی ځلی چې د خلکو بيلابيلو کچو ته معلومات ورکوي په خاصه توګه د ټولنې په کچه کېدای شي چې عامو خلکو ته زياته پوهه ورکړي او دوی په دې هلو ځلو کې را ګډ کړي.

۲. **د اروپايي اتحاديې په پروګرامونو او پروژو کې د ټولنې د ګډون لپاره د اوسنيو معلوماتو، ښوونې او د اطلاعاتو د کمپاينونو تاسيسول يا پياوړی کول:** کمپاينونه کېدای شي د حکومتي يا غير حکومتي سازمانونو له لارې پياوړي او تطبيق شي. کمپاين کېدای شي چې په حکومتي/ غير حکومتي سازمانونو د دې لپاره متکي و اوسي چې په بيلابيلو کچو د خلکو ګډون د اروپايي اتحاديې په پروګرامونو او پروژو کې سره را غونډ کړي.

۳. **د لنډ مهاله پروګرامونو په ځای د اوږد مهاله پروګرامونو طرحه کول چې د دوامړو کړنلارو پايلې پکې ځرګندې وي:** د يوې دايمي ستراتيژۍ بريالی تطبيق د دې غوښتنه کوي چې د اوږد وخت لپاره د برياليتوب پايلې وسنجول شي ځکه چې بهرني فکتورونه او ننګونې په اصل کې اوږد مهاله دي. حتی پوليس افسران چې د يوپول له پروګرامونو څخه برخمن وو، و نه توانېدل چې ووايي هغه څه و. له دې امله، د ظرفيت جوړونې داسې هلی ځلی بايد په پروګرام کې ونيول شي چې نوي کورسونه ولري خو زده شوي مهارتونه او پوهه زياته کړي.

## اخذليکونه:


اروپايي اتحاديه- افغانستان کانفرانس " د همکارۍ او پرمختګ په اړه د ګډ کار تړون ۲۰۱۲"کال اروپايي اتحاديه او افغانستان له ۲۰۱۴ کال څخه ها خوا ، له ۴-۵ د اکتوبر مياشتی ۲۰۱۲کال؛ يوپول افغانستان، "اساسي سندونه؛ ۲۰۱۲،۷،۱۷– د شورا فيصله ۲۰۱۲ / ۳۹۱/ CFSP " ۱۲ جولای نيټه ۲۰۱۲کال،

اروپايي کميسيون ، "اروپايي اتحاد- افغانستان؛ اوسنۍ حالت "، جولای مياشت ۲۰۱۲ کال،.

د اروپايي پلټونکو اجندا ، " د اروپايي اتحاديې د پوليس ماموريت په افغانستان کې: ګډې پايلې " ځانګړې راپور ، جنوري مياشت ۲۰۱۵ کال،"

د مشرانو جرګې د اروپايي اتحاديې کميټه، " د اروپايي اتحاديې د افغان پوليس ماموريت"، د ۲۰۱۰-۱۱ غونډې ۸ راپور ، لندن، فبروري ۲۰۱۱ کال،.

جونا بکلي، " آيا اروپايي اتحاديه کېدای شي په افغانستان کې ډېره اغېزناکه وي؟ " د اروپايي ريفورم مرکز، د پاليسي لنډه توضيح، اپريل مياشت ۲۰۱۰ کال،

کوبرا ټرک، " د يوپول افغانستان لپاره تر يو کال کمه موده: بيا بی کفايتي " د ترکې اونۍ، جولای نيټه ۱۰، ۲۰۱۲ کال،

ماګزين لاريف، " له خبرو څخه تر عمل پورې: د يوپول افغانستان د ماموريت په ذريعه د افغانستان په جګړه کې د اروپايي اتحاديې ګډون" اروپايي امنيت، ټوک ۲۱، شمېره ۲، ۲۰۱۲ کال،

روبرت کاګان، "جنت او ځواک " الفريد ای کنوپ ، ۲۰۰۳ کال، مخ ۲۳،

## د EUNPACK د پروژې په هکله:

د EUNPACK پروژه طرحه او جوړه شوې چې وښيي آيا د اروپايي اتحاديې غبرګون په باندنيو بحرانونو کې د هغه ځای د سياسي او ټولنيزو شرايطو په اړه حساسيتونه په پام کې نيسي او که نه. دې موخې ته د رسېدو لپاره پروژه يوه هراړخيزه تګلاره خپلوي چې د بحران ټول دوران، د اروپايي اتحاديې بشپړې وسيلې او په بيلابيلو سيمو کې د بحرانونو په وړاندې د اروپايي اتحاديې ورټيا رانغاړي ( د مثال په توګه، پراخه سيمه، د ENP سيمه او نورې ګاونډې سيمې). په دې توګه موږ کولای شو د اروپايي اتحاديې هر اړخيز ميتود تر شننې لاندې ونيسو – په بهرنيو هلو ځلو کې د تګلارې غوره کول– او وښيو چې څنګه دغه تګلارې په سيمه کې د تطبيق وړ دي؛ په بيلابيلو سيمو او حالاتوکې د بحرانونو په وړاندې د اروپايي اتحاديې د تګلارې يوه پرتله ايز شننه وکړو؛ او په دې توګه زده شوي سبقونه په ګوته کړو او څرګنده کړو چې څنګه کېدای شي د اروپايي اتحاديې د بحران د مديريت بنسټونه او پاليسۍ لا ښه شي.

اروپايي اتحاديه د نړۍ په کچه يو له هغو بنسټونو څخه ده چې ډېرې زياتې څېړنې ورباندې شوې دي. په هر حال، څه شی چې نشته هغه د بحرانونو په وړاندې د اروپايي اتحاديې د ميکانيزمونو يوه سيستماتيکه او ژوره شننه ده او دا حقيقت چې څنګه دغه ميکانيزمونه په هغه ځای کې نه يوازې د حکومتي چارواکو او نخبه ګانو له خوا ، بلکې د خلکو د بيلابيلو ګروپونو له خوا درک کيږي او د تطبيق وړ ګرځي. دا خبره ځکه مهمه ده چې د اروپايي اتحاديې هلی ځلی د نفوسو بيلابيلو ډلو له خوا په بېلا بېل ډول درک کيږي. له دې امله، د EUNPACK لويه موخه دا ده چې د بحران په وړاندې د اروپايي اتحاديې د غبرګون ميکانيزمونه څرګند کړي څو نوې نظريات او پېژندنې برابرې کړي چې کولای شي زموږ پوهه په دې اړه هم زياته کړي چې د بحران په وړاندې غبرګون څنګه کار کوي او تر موخې لاندې ملکونو کې دغه غبرګون څنګه تطبيق کيږي او څنګه کېدای شي هغه ښه شي. له لاندی څخه پورته خوا ته د تګلارې په معرفي کولو سره چې يو مؤسساتي تګلاره يې پياوړی کړې موږ به وکولای شو چې تر موخې لاندې هيوادونو کې ځايي ادارې او نظريات وپلټو، بې له دې چې د اروپايي اتحاديې بنسټونه او د دوی طمعي او غوښتنې له پامه وغورځوو. په دې ذريعه EUNPACK کولای شي چې د خوځنده پيښښوټول دورانونه تر شننې لاندې ونيسي. په دې کې د اروپايي اتحاديې موخې، انګېزې او وروستۍ د تطبيق پړاو دغه راز د ځايي فعالينو تصورات او غبرګونونه او وروسته بيا د اروپايي اتحاديې موخې او درک پکې شامليږي. دغه کار د يوه مختلط ميتوديز تګلارې په توګه شوني کېدای شي چې څېړنه او عملي کار، د څېړنود تصوراتو د مطالعې او د ژورو مرکو هلو ځلو سره يو ځای کوي، د څېړنې په اړه له دغه اساسي تګلارې سره سم EUNPACK به لومړنې تجربې شميری راغونډ کړي چې د صلاحيتونو په ځای به يې په عمل ډېره تکيه وي او په دې به زور واچوي څو درک کړي چې اروپايي اتحاديه د موخې لاندې دولتونو او خلکو له خوا د بحران په وړاندې د اروپايي اتحاديې غبرګون څنګه ګوري او درک کوي. په EUNPACK کې تر مطالعې لاندې قضيې د يو لړ ننګونو پر بنسټ انتخاب شوې چې د اروپايي اتحاديې تر کار لاندې دي ( د بحرانونو بيلابيل ډولونه او بيلابيلې کچې). دغه راز، د پاليسي په چوکاټ کې بدلونونه او وسايل چې دغو ننګونو ته ځواب ووايي هم خپل نقش لري. له دې امله زموږ پروژه به د بحران په وړاندې د اروپايي اتحاديې د غبرګون ميکانيزمونه د پاليسي په برخه کې تر کتنې لاندې ونيسي ( کوسوو او سربيا )، او دې ته ورته هيوادونه ( اوکراين او ليبيا ) او له هغه وړاندې هيوادونه ( مالي، افغانستان او عراق ) هم د دې پاليسي سيمې تشکيلوي. دغه کتنې د ګډ کار په ذريعه تر سره کيږي او د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د دې ګډې پروژې د يوه غړي په حيث په افغانستان کې د پروژې کتنې تر سره کوي.

ژباړونکی: نظام الدين کټوازی
د چاپ کود ۱۷۳۴P

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله:

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) ، د څېړنې يو خپلواک بنسټ دی چې مرکز يې په کابل کې دی. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره ماموريت دا دی چې د لوړ کيفيت ، او د پاليسي اړونده څېړنو او د هغو د پايلو د خپرولو او د څېړنو او زده کړې د کلتور پياوړی کولو له لارې پاليسي اوعمل ته معلومات ورکوي او په هغو اثر غورځوي. دې ماموريت ته د رسېدلو په لار کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره له پاليسي جوړوونکو ، مدني ټولنبو ، څېړونکو ، او زده کونکوسره يو ځای کار کوي چې له دوی سره د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره له څېړنو څخه د ګټې اخيستنې په غرض مرسته وکړي او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې کتابتون دوي لپاره چمتوکړي څو دوی خپل څېړنيز ظرفيت لوړ کړي او د شننې تفکر او مباحثې لپاره زمينه برابره کړي .

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کال ۲۰۰۲ کې له افغانستان سره د مرستندويه ټولنې له خوا تاسيس شوې او د ډاريکټرانو يو بورډ لری چې د مرسته کونکوسازمانونو ، ملګرو ملتونو او څو اړخيزو ادارو او غيردولتي سازمانونو استازې پکې ګډون لري.